# مطبوعاتی خبرتیا

کابل - د ۱۳۸۹ کال د چنګاښ ۱۹

د افغانستان د بشر د حقونو خپلواک کمیسیون دوسله والوډلو(طالبانو)غیر قانونی او غیر شرعی عمل چي د غیر عادلانه محکمی له مخی ئي بی بی صنم د شیر محمد لور د بادغیس ولایت د قادس ولسوالي او سیدونکی اعدام کړي ده. په کلکه غندی او داعمل د هیواد د اساسي قانون د جزا او نورو نافذ شوي قوانینو او هم د بشری قوانینو پر خلاف بولي، چي دا دحق د ژوند تر پښو لاندی کول دی ځکه پر خپل سر وژل د هر چا یا هري ډلي له خوا په هره پلمه چي وي د انسان د ژوند پر حق تیري دی. او د پا ک قران او د شریعت د موازینو له مخی لکه ټول انسانان چي ئي وژلي وي د هغوی په کتار کی راځی، چي په کلکه غندل کیږي او د سزا وړګرځي.

اعدام شوی ښځه یوه کونډه وه او په دي تور نه شوي وه چي د بل چاڅخه میندواره ده، هغه د طالبانو د ډلي له خواڅخه وینول شوه او د غیرعادلانه محکمی له مخي د ۱۳۸۹ کال د غوایي په ۱۷ باندي لومړي ۲۰۰ شلاکي ووهل شوه او بیا د ټولو خلکو په وړاندي په مرد کیو ووژل شوه.

د شریعت له مخي کونډه د احصان تر شرطونو لاندي نه راځي او محصنه نه ګڼل کیږی او د بل پلوه څخه حتا که ئي میندواوری ثابته هم شي هغه ددي دلیل نشي کیدای چي د شرعي حد مجازات ته ورسیږي. ددغه شان جرمونه ئي دسقوط سبب کیږي، او د شریعت له مخی هیڅوک یا مقام ددي صلاحیت نلري چی نور خلک محاکمه یا سزا ورکي.

د هیواد د اساسی قا نون په ۲۷ ماده کي راغلي دي" هیڅ یو عمل جرم نه ګڼل کیږي خو دهغه قانون له مخي د جرم و ارتکاب له مخه نافذ شوي وي. هیڅوک د قانون له حکمه پرتعقیبداي، نیول کیداي یا توقیفداي نشی، هیچاته سزا نشي ورکول کیداي مګر د با صلاحیته محکمي په حکم او دهغه قانون د احکامو سره سم چي د اتهام فعل تر ارتکا ب له مخه نافذ شوي".

د هیواد د اساسی قا نون په ۲۲ ماده کي راغلي دي"د افغانستان اتباع ښځي او نارینه د قانون په وړاندي مساوي حقوق او وجایب لری"د هیواد د سزا قانون چي جرمونه او تعزیرِي سزا ګاني تنظیموي په ښکاره وائي چي دحدود د جرمونو مرتکب قصاص او دیت د اسلامی شریعت د حنفی فقهي د حکمونو سره سم په سزا رسیږي. چي البته په دي هکله صلاحیت لرونکي محکمه حکم ورکوي.

د افغانستان د بشر د حقونو خپلواک کمیسیون دغه شان پیښي چي په هیواد کي پر خپل سر تر سره کیږي او په دي لړکي هغه بی دفاع او مظلومي ښځی چي د قانوني او شرعی ثبوت پرته او پرانتسابي تورونو باندي ولاړ چي هغوی د عادلانه محکمي د حق نه پرته خپل ژوند د لاسه ورکوي په اندیښنه کي دي. او د افغانستان له دولت، ملي او نړیوالو اړونده ځانګو څخه غوښته کوي چي په دي برخه کي چټکي او جدي څیړني وکړي، او دجنایتو نو مرتکبین په محکمه کی په سزا ورسوي.

د افغلنستان د بشر د حقونو د خپلواک کمیسیون – مرکزي ځانګه